مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ژباړه: سمسور ودان

۲۰۲۳/۰۳/۲۱

# مور

زما اوس فقط یوه هیله ده
زما وروستۍ هیله
د مور د لاس ډوډۍ ده
چې ویې خورم
زه
د مور په لاس له پخ شوې قهوې غوړېپ وکړم.
زه یې سپېڅلی لمس محسوس کړم
چې ورو ورو ورسره را غوړېږي
زما د ماشومتوب یادونه
دا وژونکی احساس دی
چا ما وژني
زه به خدای زده څنګه
د ژوند قرض پرې کړم
زه به خدای زده څنګه
د زړه د پاکو اوښکو قیمت اداء کړم

محمود درویش
ژباړه: سمسور ودان



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ